محمد انور آخړ

۲۰۲۱/۱۱/۲۳

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

اووه لسمه برخه

**افغانستان:**

**د ولسمشر غني لیونی تېښته، د اوزبکو سپک او ناوړه چلند او تاریخي شالید ته لنډه کتنه:**

ډېره موده نه وه تېره چې د بخارا پاچا بیا امیر ته وویل چې خپله کورنۍ دې بخارا ته راوغواړي او یا دې له بخارا څخه ووځي. امیر دوست محمد خان په ځواب کې وویل چې زما کورنۍ د نواب جبار خان په واک کې ده، زه فکر نه کوم چې نواب به زما غوښتنه ومني. پاچا ځواب ورکړ چې امیر دې د یوه باوري کس په لاس نواب جبار خان ته لیک ولیږي او د خپلې کورنۍ د رالیږلو غوښتنه دې ترې وکړي، که نواب جبار خان د امیر غوښتنه ونه مني امیر به ملامت ونه ګڼل شي.
هغه وو چې امیر دوست محمد خان، حسین خان شاه سمند له یوه لیک سره خُلم ته ولیږه او هغه یې په شفاهي توګه پوه کړ چې نواب جبار خان ته ووایي چې بې له ځنډه خپله کورنۍ د اوزبکانو له منګولو بهر کړي.
دا مهال د بخارا پاچا د خلم والي او د کندوز میر ته لیکونه ولیږل او امر یې وکړ چې د امیر د کورنۍ په سفر کې مرسته وکړي.
د بخارا د پاچا استازی (غني شاه) د حسین خان شاه سمند سره یو ځای خلم ته راغلل او هلته نواب جبار خان او د هغې سیمې حاکمانو (غني شاه) له دې امله سخت ملامت او ورټلو چې د بخارا پاچا له امیر دوست محمد خان سره ناوړه سلوک کوي. د بخارا پاچا استازی تش لاس بخارا ته ستون شو چې په پایله کې د بخارا پاچا لاپسي غوسه شو او امیر دوست محمد خان ته یې وویل چې بې له ځنډه له خپلو ملګرو سره د بخارا خاوره پرېږدي او هم یې امر وکړ چې د امیر د سفر وسایل دې تر (چارجو) پورې برابر شي.
د آمو سیند په غاړه د بخارا پاچا یو تن نږدې کس له امیر دوست محمد خان او د هغه له زامنو څخه غوښتنه وکړه چې په یوه بېړۍ کې ځای پر ځای شي او د امیر ساتونکو ته یې وویل چې منتظر پاتې شي او وروسته دې په یوه بله بېړۍ کې حرکت وکړي. خو امیر د دوی دا ډول غوښتنه خوښه نه کړه، په داسې حال کې چې امیر د پاچا له استازو سره په خبرو اترو بوخت ؤ، د بېړۍ د ماڼوګانو له ډلې یوه تن په ترکۍ ژبه د بخارا پاچا استازي ته وویل چې ژر تر ژره دې له بېړۍ ښکته شي. امیر دوست محمد خان چې له ترکۍ ژبې سره بلد ؤ، په خبره پوه شو او بې له ځنډه له خپلو ملګرو سره یو ځای له بېړۍ څخه په بېړه کوز شول او په آس باندې بېرته بخارا ته ولاړل.
د بخارا ښار ته د امیر بیا راستنیدلو دلیل امیر دوست محمد خان د بخارا پاچا ته څرګند کړ، خو ورځې وروسته پاچا امیر هغه کور ته ولېږه چې مخکې یې ورته ټاکلی ؤ. پاچا (امیر) ته یې د کنایې په ډول پیغام ولېږه چې افغان پاچا په [افغاني] ترکستان کې له سفر څخه ډار شوی دی. له دې وروسته درې ورځې امیر دوست محمد او ملګرو ته یې ډوډۍ او خدمت کوونکي ونه لیږل، تر دې چې نومړی اړ شو پاچا ته غوښتنلیک ولیږي چې د دوی ورځني لګښتونه په نقد ډول ورکړي.
پاچا ځواب ورکړ چې د ده لپاره د دوو سوو نوکرانو ساتل اړین نه دي، امیر باید یوازې دېرش تنه نوکران وساتي او پاتې نور دې رخصت کړي. په عین وخت کې [د بخارا د پاچا په اشاره] نایب عبدالصمد په پټه امیر پوه کړ چې د بخارا د پاچا سره د ده د ناسم چلند له امله د [امیر] او د زامنو راتلونکی او ژوند یې له خطر سره مخ دی او د دا ډول



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وضعیت په لیدلو سره هغه (عبدالصمد) حیران پاتې دی. نایب عبدالصمد امیر ته وړاندیز وکړ چې خپله یوه لور دې د بخارا پاچا ته په نکاح کړي، ویې ویل چې پاچا هم دا منلې ده.
هغه وو چې عبدالغنی خان او محمد عظیم خان د امیر دوست محمد خان د لور د راوړلو لپاره خُلم ته ولېږل شول او د امیر څلورو تنو ځوانو زامنو، هر یو محمد امین، محمد شریف، محمد عظیم او شیرجانخان ته هم اجازه ورکړل شوه چې خپلو میندو ته د خُلم ښار ته ورشي.
میرزا امام بردي خېل ځان په لېونتوب واچاوه نو هغه ته هم د تګ اجازه ورکړای شوه او مستوفی عبدالرزاق هم خُلم ته د بیا ستنېدو اجازه ترلاسه کړه.
هغه مهال د بخارا امیر، امیر دوست محمد خان یوه بل کور ته ولېږداوه او هلته د امیر سره ځو ورځې ښه چلند کېده.
هم مهاله د هغو اوزبکو کړه وړه چې د امیر د ساتنې په موخه ټاکل شوي وو، ناڅاپه بدلون وکړ چې امیر یې فکر هم نه کولو.
امیر ته د بخارا پاچا د خاینانه نیتونو له کبله اندېښنه پیدا شوه او هغه وخت چې [د ده وزیر] میرزا سمیع خان له یوه بل ځای څخه د امیر استوګنځای ته راوستل شول چې له ده سره یو ځای وي، همدارنګه مستوفی عبدالوهاب چې خُلم ته په سفر ؤ، امر وشو چې له نیمې لارې بېرته بخارا ته راوګرځول شي، نو د امیر اندېښنه څو برابره زیاته شوه، امیر په دې فکر کې شو چې د بخارا پاچا دوی د ټول وژنې لپاره یوه ځای ته راټول کړي دي.
له دې وړاندې افغانانو ته اجازه ورکړی شوې وه چې خپل لمونځونه خپلو استوګنځایونو ته په نږدې جوماتونو کې ترسره کړي. یوه ورځ په جومات کې حاضرو خلکو د لمانځه په پای کې خپل سرونه تور کړل او د افغانانو د عافیت او سلامتی لپاره یې دعا وکړه. د بخارا پاچا د ښار د خلکو د خیرغوښتنې له دعا وروسته امیر دوست محمد خان ته نور هم په غوسه شو، امر یې کړ چې وروسته له دې، باید افغانان لمونځونه په خپلو کورونو کې وکړي او د خپل استوګنځایونو له دړو (دروازو) دې بهر نه شي. په دې ډول یې له امیر دوست محمد خان او د هغه له زامنو، محمد اکبر خان، محمد افضل خان او د ده له وزیر میرزا سمیع خان سره یې د اسارت معامله ترسره کوله. (موهن لال کشمیری: زنده ګی امیر دوست محمد خان، امیر کابل، ۲ ټوک، ژباړن: پروفیسور ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان، ۲۱۸-۲۱۹مخونه)

**له بخارا څخه د امیر دوست محمد خان تېښته:**
... د امیر دوست محمد خان تېښته د بخارا د پاچا له منګولو څخه یوه نادره پېښه وه او په داسې مهارت سره ترسره شوې ده چې د امیر د ځوانی مهال په کړنو کې یې بېلګې لیدل کېږي، پېښه داسې وه چې د پارس پاچا د بخارا سفیر، له دې امله په رسمي توګه ورټلو چې د بخارا پاچا له امیر دوست محمد خان سره ناوړه او له شرمه ډکې کړنې ترسره کړې وې.
وروسته له دې د بخارا پاچا، امیر دوست محمد خان له زندان څخه آزاد کړ او د شاه زمان د لور په کور کې یې ځای پر ځای کړ او د میاشتې یې (۵۰۰) تنګې د هغه د لګښت لپاره وټاکلې، امیر ته اجازه ورکړل شوه چې له کوره د باندې په آس باندې وګرځي خپل ساعت تېر کړي او پرته له څارونکو په جوماتو کې لمونځ وکړي خو یو تن ملا چې د سرهند صاحب زاده، په نوم یادیده د هغه تر څارنې لاندې ؤ. دا مهال د امیر مشر زوی سردار محمد افضل خان سخت ناروغ شو چې وروسته د بخارا پاچا خُلم ته د تللو اجازه ورکړه. هغه په سفر ووت خو د پاچا مامورینو په لاره کې څو ورځې ایسار کړ خو د امیر له غوښتنې او زاریو وروسته د بخارا پاچا لخوا بیا د سفر اجازه ورکړای شوه، هغه وو چې وروسته له دې امیر د خپلې تېښتې هوډ وکړ، امیر د ماسخوتن لمونځ په جومات کې وکړ، محمد اکبر خان، سلطان جان او الله بردي یې راوبلل خپل د تېښتې پلان یې ورسره شریک کړ، امیر وویل چې که ټول یو ځای وتښتو پایله به یې ناوړه وي، ښه به دا وي چې محمد اکبر خان د سلطان جان له یو تن لارښوونکي سره د اندخوی پر لاره ولاړ شي او پخپله امیر له الله بردي او یو تن لارښوونکي سره د سبز ښار له لارې ولاړ شي، که چېرې زموږ یوه ډله د بخارایانو له خوا ودرول شي نو دویمه ډله به خامخا په سلامتی سره [منزل] ته ورسیږي.
امیر د خپل پلان سره سم د سبز ښار پر لور روان شو خو له بده مرغه چې د یوې اوږدې او کږې وږې لارې له تللو وروسته یې اصل لاره غلطه کړه چې له کبله یې ستړي او ستومانه شول او خپل آس یې هم له لاسه ورکړ خو بیا هم نېکمرغه ؤ چې یو کاروان له لارې تېریده نو د کاروان څښتن یو اوښ ورکړ چې د اوښ دواړو لورو ته لویې توکرې (خورجینونه) تړلې وو، امیر او ملګرو یې د ناروغې په پلمه په دغو توکریو کې ځانونه پټ کړل، د (چراغ چي) په سیمه کې د بخارا پاچا مامورین چې د امیر له تېښتې خبر وو، په دې کاروان کې د امیر په شتون باندې شکمن


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

شوي وو، نو د هر اوښ ټوکرۍ يې وپلټلې خو امير يې ونه موند ځکه چې امير د لارې په منځ کې خپله سپينه ږيره په هوښيارۍ سره په رنګ توره کړې وه، د بخارا پاچا مامورينو هغه جاسوس ته سزا ورکړه چې په دغه کاروان کې د امير دوست محمد خان د شتون اطلاع ورکړې وه. (هماغه کتاب، ۲۶۷مخ)

محمد اکبر خان او سلطان جان په بخارا کې پاتې وو خو امير، معجزې ته ورته د خپلې تېښتې په ترڅ کې د تکيه [سيمې] ته ورسيد چې په سبز ښار پورې يې اړه درلوده، امير له هغه ځايه يو تن تجار چې کبير خان نوميده؛ خبر ولېږه چې نوموړي تجار د امير لپاره جامې او نور اړين توکي برابر کړل، وروسته امير د سبز ښار حاکم ته خبر ورکړ چې د سبز ښار ته نږدې شوی دی، د سبز ښار حاکم د زر تنو سپرو عسکرو سره د امير دوست محمد خان د ښه راغلاست لپاره مخې ته ورغی او په عزت او درناوي سره يې خپلې کلا ته ورسولو ... د سبز ښار حاکم ته د بخارا پاچا له خوا يو ليک راورسيد چې په کې ليکل شوي وو:«که امير بخارا ښار ته نه رالېږې نو ځُلم ته د ده د تګ مخه ونيسه.» د سبز ښار حاکم د بخارا پاچا ته ځواب ورکړ چې زموږ د هېواد د دود دستور سره سم ميلمه ته ښه راغلاست او درناوی ويل کيږي، نه ستاسو په څېر چې ميلمانه زوروی، نو څه چې د امير دوست محمد خان هيله او غوښتنه وي هغه به ترسره کيږي. (هماغه کتاب، ۲۶۸مخ)

پاتې دې نه وي چې له دې وړاندې د بخارا پاچا، له زمان شاه سره چې د خپل ميرني ورور شاه محمود له خوا ړوند شوی ؤ، د بې ايمانۍ او بداخلاقۍ کړنې ترسره کړې دي، سره له دې چې په نورو تاريخي سرچينو کې بخارا ته د زمان شاه تلل او پنا غوښتنه نه ليدل کيږي خو بيا هم په دوو تاريخونو کې اشاره ورته شوې ده، انګرېز جنرال سرپرسي سايکس په خپل کتاب (تاريخ افغانستان) د فارسي ژباړې په ۳۶۷مخ کې ليکي:«زمان شاه وروسته له ړنديدو څخه د بخارا امير دربار ته وتښتيد چې له هغه سره يې په بې شرمۍ سره چلند وکړ او د هغه لور چې په ښايست مشهوره وه ترې تصرف کړه، شاه زمان بيا له بخارا وتښتيد ... .»

موهن لال کشميري په بخارا کې د زمان شاه د لور د کور د شتون په اړه اشاره کړې ده وايي:«وروسته له دې د بخارا پاچا، امير دوست محمد خان له زندان څخه آزاد کړ او د شاه زمان د لور په کور کې يې ځای پرځای کړ.» (هماغه کتاب،۲۶۷مخ)

داسې ښکاري چې د بخارا پاچا د امير دوست محمد خان کورنۍ په دې موخه بخارا ته راغوښتله چې له ده سره يرغمل پاتې شي او د شاه شجاع پر وړاندې جګړه ونه کړي ځکه چې د زمان شاه لور چې د شاه شجاع وربره وه؛ د بخارا د پاچا په نکاح کې وه، په دې اړه د امير دوست محمد خان وزير ميرزا سميع خان وويل:«سره له دې چې د بخارا پاچا له خولې کومه کنايه ډوله يا نامطلوبه خبره نه ده اوريدل شوې خو د هغه وزير نورمحمدبای به ويل چې د کابل سلطنت د اصلي وارثينو له خوا نيول شوی دی، په داسې حال کې چې امير دوست محمد خان د غاصب په توګه حکومت کاوه.» (هماغه کتاب، ۲۱۳مخ)

د بخارا يو بل امير له امير عبدالرحمن خان سره هم ښه چلند نه دی کړی، د ده د نېکه، امير دوست محمد خان به څېر يې ډول، ډول توطيې ورته جوړولې هغه وايي:«... زما پر ضد يې هر ډول دسيسې جوړولې، چې زما نوم بد کړي، داسې دسيسې چې زه يې له يادولو شرمېږم او را ته ډېرې بدې ايسي.»

امير عبدالرحمن خان زياتوي:«څو ورځې وروسته امير کوتوال ته ويلي وو چې ما د پرديو ښځو سره په نامشروع اړيکو تورن کړي خو دغه تور ثابت نه شو ځکه چې مالومه شوه چې هېڅ وخت زه يوازې نه وم او تل به ۶۰-۷۰ تنه له ما سره مله وو. امير حکم کړی ؤ چې زما د نوکرانو په منځ کې نفاق واچوي تر څو هغوی وهڅوي چې له ما څخه جلا شي.» (امير عبدالرحمن خان: تاج التواريخ لومړی ټوک، ۹۰مخ)

د يادولو ده چې د بخارا د اميرانو له ډلې يو هم عالم خان ؤ چې له شورويانو څخه کابل ته تښتيدلی ؤ، په کابل کې د بخارا دغه تښتيدلي امير، د منځنۍ آسيا له هغو مهاجرينو سره چې په افغانستان کې اوسيدل، مالي مرسته کوله چې د شوروي پروړاندې جګړيدل او په دويمه نړيوله جګړه کې د محور هېوادونو [جرمني، چاپان، ايټاليا ...] له ملاتړ برخمن وو، افغان پاچا ظاهر شاه چې [په دغه نړيواله جګړه کې بې پرې پاتې ؤ] د عالم خان په دغه کار غوسه شوی ؤ، امر يې وکړ چې عالم خان د ده پر وړاندې حاضر کړي. کله چې د بخارا دغه زوړ او نابينا پخوانی امير د ظاهر شاه پر وړاندې حاضر شو، شاه هغه د محور له هېوادونو سره په همکارۍ تورن کړ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولـئ

د بخارا امیر چې هېڅ ډول دلیل یې د خپلې دفاع لپاره نه شو وړاندې کولی، نو په ژړا شو، ویې ویل چې د خپلې ارادې پر خلاف د جرمني او متحدینو اتحاد ته تېل وهل شوی دی. (۱۹۴۳ز، کال) (پروفیسور ډاکټر یوري تیخانف: نبرد افغاني استالین، دري ژباړه:عزیز آرینفر، ۴۸۴مخ)

پورته یادونه مو د دې لپاره وکړه چې د بخارا چارواکي په بل هېواد کې په وړه خبره ژاړي خو په خپل هېواد کې له پناه غوښتونکو افغانانو سره د داړونکو ځناورو په څېر سلوک کوي.




(په کابل کې د بخارا تښتیدلی امیر، عالم خان)

نېټه:۱۴۰۰/۹/۲ل. ل

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ